# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

دویم کال - ۳۹مه ګڼه | پرله‌پسې ۵۳مه ګڼه
نېټه: ۱۴۰۴/۱۰/۱۸



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- کابل سروبي ولسوالۍ کې د برېښنا یوې لویې پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل

۲- هرات کې په ۲۰۲۵ کال کې ۳۵۰ فابریکو په فعالیت پیل کړی

# کابل سروبي ولسوالۍ کې د برېښنا یوې لویې پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل



د کابل سروبي ولسوالۍ نغلو کې ۲۲٫۷۵ میګاواټه برېښنا پروژې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د ګټې اخیستنې له امله په جوړو شوو مراسمو کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د چارو اداري مشر محترم شیخ نورالحق انور، د امارتي شرکتونو رییس محترم مولوي احمد جان بلال، د افغانستان برېښنا شرکت رییس محترم ډاکټر عبدالباري عمر او نورو امارتي مسوولینو ګډون کړی و. د ریاست الوزراء اداري مرستیال په خپلو څرګندونو کې وویل، له بده مرغه هېواد کې په پوره اندازه د اړتیا وړ برېښنا نه لرو. هڅه زیاته کړه، د افغانستان اسلامي امارت د افغانستان برېښنا شرکت په هڅو اوس له ۱۲۰۰ میګاواټو د زیاتې برېښنا تولید پروژې د پلي کېدو په حال کې دي.

د چارو اداري رییس په خپلو خبرو کې وویل، د اسلامي امارت مسوولین تر بل هر څه د ولس اړتیا ښه درک کړي او په دې برخه کې دوامداره هلې ځلې کوي. د ګټې اخیستنې مراسمو کې نورو وینا کوونکو د یادې پروژې بشپړېدل یو لوی کار او د اسلامي امارت یوه مهمه لاسته راوړنه وبلله.

د دې پروژې له درکه به ۲۳ زره کورنیو ته برېښنا ورکړل شي، چې کورونه به یې روښانه او د برېښنا له امله رامنځته شوې ستونزې به یې حل شي.

د برېښنا شرکت په هڅو د هېواد په مختلفو سیمو کې د لمریزې او بادي برېښنا د تولید ګڼې پروژې تر کار لاندې دي، چې په بشپړېدو سره به یې په هېواد کې د برېښنا کچه زیاته شي. هېوادوال به مو له برېښنا برخمن او صنعتي فعالیتونه به ورسره پراختیا ومومي.

افغانستان په کال کې شاوخوا ۳۰۰ ورځې لمر لري او ځینې ولایتونه ډېر باد لري، چې د برېښنا د تولید ښه ظرفیت لري. همدې ته په کتو امارتي مسوولین هڅه کوي چې د خپل هېواد له ظرفیت څخه ګټه واخلي او په تدریجي توګه په هېواد کې د برېښنا تولید زیات او هېواد مو له وارداتي برېښنا خلاص کړي. د یادې پروژې چارې تېر کال د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پیل شوې وې.

په هېواد کې له اشغال وروسته بې ساری امنیت راغلی او د پانګونې له پاره ښه زمینه برابره شوې ده. کورني او بهرني پانګوال کولی شي چې په افغانستان کې له راغلي فرصته استفاده وکړي او په مختلفو سکټورونو کې پانګونه وکړي. اسلامي امارت ورته اسانتیاوې برابرې کړي او امتیازات یې ورته په نظر کې نیولي دي.

# هرات کې په ۲۰۲۵ کال کې ۳۵۰ فابریکو په فعالیت پیل کړی

د هرات امارتي مسوولینو ویلي، په ۲۰۲۵ کال کې د هرات په صنعتي ښارګوټي کې شاوخوا ۳۵۰ لویو او کوچنیو تولیدي فابریکو فعالیت پیل کړی دی. د هېواد لویدیځ کې هرات د افغانستان په کچه د




صنعتي فعالیتونو لوی مرکز ګرځېدلی دی او د هېواد په اقتصادي وده کې لویه ونډه لري.

په هېواد کې له لسیزو وروسته د امن څادر خورېدلو له امله ګڼو افغان صنعتکارانو خپلې پانګې هېواد ته رالېږدولې او د هېواد دننه یې فعالیت پیل کړی، چې ورسره ګڼ کاري فرصتونه رامنځته شوي دي.

د افغانستان اسلامي امارت له لوري د پانګوالو او صنعتکارانو ملاتړ، اسانتیاوې او امتیازات په نظر کې نیول نور هغه څه دي چې افغان پانګوال او صنعتکاران یې پانګونې او صنعتي فعالیتونو پیلولو او له نورو هېوادونو راالېږدولو ته چمتو کړي دي.

اوسمهال په هېواد کې د درملو، اوسپنې، لبنیاتو، خوراکي توکو او غیرالکولي مشروباتو د تولید ګڼې فابریکې فعالیت کوي، چې په ځینو توکو کې افغانستان ځان بسیاینې ته رسېدلی دی.

اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي پرمختګ له پاره هڅې کوي، څو افغانستان په مختلفو سکټورونو کې ځان بسیاینې ته ورسوي او له وارداتي هېواده یې پر یوه صادراتي هېواد بدل کړي.